# د ولسي جرګې یو شمیر نوماندان په نقدي جریمو محکوم شول




د ولسي جرګې ۶۸ تنه نوماندان د ټاکنیزو شکایتونود کمیسیون له لوري په نقدي جریمو محکوم شوي دي .

د ټاکنو کمیسیون د دستور پر بنسټ ، نوماندان یواځې ددې حق لري چې خپل لوی عکسونه د ښار په مهم سیمو کې نصب کړي ، خو دې نوماندانو ددې دستور پرخلاف خپل عکسونه یې د کورونو پر دیوالو او شخصي ملکیتونو باندې سرېښ کړي اوخپل شعارونه یې په منع شویو ځایونو کې لیکلي دي.

د ټاکنیزو شکایتو د کمیسیون غړي او ویاند احمدضیا رفعت د زمري په لسمه د یوې خبرې ناستې پرمهال وویل :" دغه نوماندانو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تګلارې خلاف ، خپل عکسونه او تبلیغاتي پاڼې او شعارونه یې په منع شویو ځایونوکې سرېښ کړي دي ."

نوموړي زیاته کړه د ټاکنیزو شکایتونوکمیسیون شکایتونو تر څېړنې وروسته په ډاګه شوه، چې ۶۸ تنه نوماندان د ټاکنوقانون د ۶۳ مادې پربنسټ  باید نقدي جریمه شي.

په دغو مجازاتو کې پر ۸۰۰۰ افغانیو نقدي جریمې سربیره نوموړي نوماندان مکلف دي چې خپل عکسونه او تبلیغاتي پاڼې له منع شویو ځایونو لرې او خپل شعارونه دې د لسو ورځو په موده کې پاک کړي .

ښاغلي رفعت همدارنګه زیاته کړه  :" د یو شمیر نورو تورتو نوماندانو دوسیې هم تر څېړنې لاندې دي اوله پای ته رسیدو سره سم به پایلې یې خلکوته اعلان شي ."

د یادونې وړ ده چې د ټاکنیزو سیالیو له پیل راهیسې تراوسه ۴۲۰ شکایتونو دټاکنیزو شکایتونو مرکزي او ولایتي دفترونو کې ثبت شوي دي .